د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د اسلامي علـومو معاونیت

د اسلامي بانکدارۍ او معاصرو مسائلو څېړنيز مرکز

علـمي څـېړنيز – کنفرانس

# اصلي عنوان: د بیت المال عوائد او مصارف

## فرعي عناوين

### لومړی عام عناوين

1. د بیت المال مفهوم، مشروعیت او تاریخ
2. په حنفي فقه کې د بیت المال ساختار
3. په بیت المال کې د حاکم د تصرف شرعي حدود
4. د بیت المال د شتمنیو پانګونه
5. په اقتصادي ثبات او پرمختګ کې د بیت المال د ښه مدیریت اغېز
6. د بې وزلو او مستحقو کسانو په پالنه کې د بیت المال ونډه

### دوهم: بیت الخمس

**عوائد**

7. په حنفي فقه کې د غنائمو د خمس څېړنه
8. په حنفي فقه کې د کنز د خمس څېړنه
9. په حنفي فقه کې د معادنو د خمس څېړنه

**مصارف**

10. د بیت الخمس مصارف او اقتصادي اغېزې يې

### دریيم: بیت الصدقات

**عوائد**

11. د زکات د اموالو ډولونه او احکام
12. په معاصرو آلاتو د خروبونې له مخې د عشر او نصف عشر احکام

**مصارف**

13. د بیت الصدقات د مصارفو څېړنه

### څلورم: بیت الخراج

**عوائد**

14. د بیت الخراج د عوائدو سرچينې
15. په بیت الخراج کې د امارتي ملکیتونو د عوائدو ونډه
16. په بیت الخراج کې د مالیاتو فقهي تکییف

**مصارف**

17. د بیت الخراج د مصارفو څېړنه
18. له بیت الخراج څخه د زیربنايي پروژو تمویل
19. له بیت الخراج څخه د لګښتونو شرعي اصول

### پنځم: بیت الضوائع

20. د بیت الضوائع د عوائدو سرچينې
21. د مصادره شویو مالونو فقهي څېړنه
22. د قاچاقي مالونو فقهي څېړنه
23. د مرتدینو او باغیانو د مالونو فقهي څېړنه
24. د بیت الضوائع د مصارفو څېړنه

### شپږم: د بیت المال اړوند د امیر المؤمنین –حفظه الله تعالی- د فرامینو او لاربښوونو ګټې.

25. د امیر المؤمنین–حفظه الله تعالی- د فرامینو او لاربښوونو په رڼا کې له قاچاق سره مبارزه او د داخلي اقتصادي سرچینو ساتنه.
26. د غیر فعالو عائداتي سرچینو د فعالولو په اړه د امیر المؤمنین - حفظه الله تعالی- فرمان.
27. د امیر المؤمنین–حفظه الله تعالی- د فرامینو او لاربښوونو په رڼا کې له غصب څخه د امارتي او وقفي ځمکو ساتنه.
28. د امیر المؤمنین–حفظه الله تعالی- د فرامینو او لاربښوونو په رڼا کې د عائداتو په راټولولو کې د شفافیت اغېزې.
29. د امیر المؤمنین–حفظه الله تعالی- د فرامینو او لاربښوونو په رڼا کې په امارتي قراردادونو کې د شفافیت اغېزې.
30. د امیر المؤمنین–حفظه الله تعالی- د فرامینو او لاربښوونو په رڼا کې د امارتي ادارو په لګښتونو کې سپما.
31. د امیر المؤمنین–حفظه الله تعالی- په فرامینو او لاربښوونو کې د اسلامي مالي سیاست نښې.
32. د بیت المال د مصارفو او لګښتونو د مدیریت کولو اړوند د امیر المؤمنین-حفظه الله تعالی- لاربښوونې او فرمانونه.

## د مقالو ليکلو اصول

د مقالې حجم باید له (10) کم او له (18)، (A4) صفحو څخه زیات نه وي، د کرښو ترمنځ فاصله باید Single وي. د صفحې عرض (21 سانتي متر)، طول يې (29.7 سانتي متر)، د صفحې څلور خواوې (2 سانتي متر) وي.

1. د مقالې عنوان باید له ټاکل شوو عنوانونو څخه وي.
2. مقاله باید په بل ځای کې نه وي نشر شوې.
3. مقاله باید په عربي او پښتو یا دري ملخص البحث (لنډيز/ خلاصه) ولري چې د مقالې مهم مطالب پکې ذکر شوي وي، له (۱۲۰) تر (۱۵۰) کلمو پورې په اساسي ټکو (اهداف، منهج او پایلو) مشتمل وي.
4. مقاله باید له درېيو تر اوو اساسي کلمات ولري.
5. د مقالې جوړښت باید د ترتیب په مراعتولو سره پر (اوله صفحه، خطبه، مقدمه، محتوی، خاتمه او مأخذونو) مشتمل وي:

**اوله صفحه:** په اوله صفحه کې د مقالې عنوان (د صفحې په منځ کې، 20 بولډ)، د محقق نوم او تخلص، علمي رتبه، وظیفه (د صفحې په پای کې راسته لوري ته، 16 بولډ) ، د اړيکې شمېره، واټسپ شمېره،

تاریخ (د صفحې په پای کې راسته لوري ته 14 بولډ) ذکر کېږي.

- **خطبه:** مختصره وي (په بسمله، حمد، صلوٰة او أما بعد مشتمله وي)، په (14) بولډ فونټ.
- **مقدمه:** باید په لاندې فرعي عناوینو مشتمله وي:

الف: د موضوع لنډه پېژندنه (له عنوان پرته).

ب: د موضوع اهمیت.

ج: اهداف.

د: اصلي او فرعي پوښتنې.

هـ: د څېړلو منهج.

- **محتوی:** محتوی کې لاندې موارد باید رعایت شي:

1. محتوی باید د اسلامي شریعت، عقیدې او د اسلامي امارت له پالیسیو سره په ټکر کې نه وي.
2. د قرآن کریم آیت باید په ځانګړو قوسونو ﴿﴾ کې د عثماني رسم الخط مطابق نقل شي (که څه هم په اقتباس کې وي) او د سورت نوم او آیت شمېره متصل په لویو قوسونو [] کې بند، په متن کې راوړل شي. لکه: ﴿أَلَآ إِنَّ أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ﴾ [یونس: 62]
3. حدیث شریف دې د راوي له نوم او د حدیث عبارت له اعراب سره په متن کې د احادیثو له معتبرو کتابونو څخه نقل شي.
4. د آیتونو ترجمه دې له کابلي تفسیر را واخیستل شي او د نبوي احادیثو ترجمه دې د حدیث د معتبرو شروحو په رڼا کې وشي.
5. فقهي مسائلو کې "مفتی به" قول باید د حنفي مذهب له معتبرو کتابونو څخه نقل شي.
6. د اقتباس پر مهال باید پوره امانتداري په پام کې ونیول شي.
7. اقتباس باید له معتبرو مصادرو او مراجعو څخه وي او حواله کې باید اصلي مصدر او مرجع ذکر شوی وي.
8. مقاله باید له هر ډول علمي او املائي تېروتنو څخه خالي وي.
9. په پښتو او دري ژبو د مقالو د خط ډول باید (Bahij Zar) وي.
10. په عربي ژبه د مقالو د خط ډول باید (Traditional Arabic) وي.
11. اسم الجلاله سره باید "جل جلاله"، "عز وجل"، "تعالی"، "سبحانه وتعالی"، "تبارك وتعالی"، "جل ذکره"، "تبارك اسمه"، "جلت عظمته" ولیکل شي او سمبول دې نه کارول کیږي.
12. د رسول الله -صلی الله علیه وسلم-، صحابه کرامو او علماوو کرامو له نومونو سره باید دعائیه الفاظ په مکمل ډول د -رضي الله تعالی عنه- په منځ کې ولیکل شي، مخففات او سمبول دې نه لیکل کېږي.
13. جدولونه او داسې نور ضمیموي محتویات باید په ښه کیفیت او مناسبه اندازه وي، چې د لید او لوست وړ وي.

- **خاتمه:** په دوو موضوعاتو مشتمله وي:

أ- نتائج: د معلوماتو پر بناء ولاړې پایلې دي.

ب- وړاندیزونه: د عنوان اړوند د نورو برخو د تحقیق یا یې د تطبیق په اړه پیشنهادات دي.

- **مأخذونه:** مأخذونو کې لاندې موارد باید رعایت شي:

1. لومړی قرآن کریم او بیا نور مأخذونه دې په الفبایي ترتیب سره ولیکل شي.
2. د مقالې په پای کې دې د مأخذونو فهرست په داسې ډول لیکلی وي، لومړی د لیکوال نسبتي نوم، بیا بشپړ نوم، د کتاب بشپړ نوم، ناشر، مطبعه، د چاپ ګڼه، ځای او د چاپ کال، د نمونې په توګه: شامي، محمد أمین ابن عابدین، حاشیة رد المحتار علی الدر المختار شرح تنویر الأبصار، الناشر: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي وأولاده بمصر، الطبعة الثانية: 1386 هـ.

**حاشیه**

1. له قرآن کریم او احادیثو پرته حواله باید د صفحې په حاشیه کې، د اړوند مأخذ عبارت –یوازې د استدلال ځای پرته له اعراب څخه- د اړتیا په اندازه واضح را نقل شوی وي، د خط ډول یې (Traditional Arabic)، اندازه یې (۱۲ عادي) او په پیل کې یې د ډش علامه وي، د نمونې په توګه:
2. [1]- قوله (استويا وزنا) أما إذا لم يستويا فيه فالبيع فاسد لربا الفضل لا لعدم الفائدة. [حاشية رد المحتار على الدر المختار شرح تنوير الأبصار ۴/ ۵۰۴]
3. په متن کې د ذکر شوي حدیث حواله دې په حاشیه کې د حدیث شمېرې یا کتاب او باب سره ذکر شي.
4. د هرې جزئې لپاره یوه حواله کفایت کوي، د یوې جزئې لپاره د څو حوالو راوړلو په صورت کې، باید دویمه حواله په نوي خط کې راوړل شي او په ابتداء کې یې د ډش (–) علامه راوړل شي، لکه:[1].
5. د حوالو شمېرې باید په هره صفحه کې له سره پیل شي.

**یادښت**

که د پورته معیارونو سره مقاله برابره نه وي، د سیمینار علمي کمیسیون له خوا نه منل کېږي.

**د مقالو د رالیږلو نیټه**

د مقالې د رالېږلو وروستۍ نېټه: 9 / میزان/ 1405هـ.ل.

**د سیمینار د دایرېدو ځای**

د افغانستان د علومو اکاډمي د علامه احمد علي کهزاد د سیمینارونو تالار.

**په لاندې آدرس مقالې راواستوئ:**


شماره تماس: ۰۷۸۵۵۵۴۳۱۱

ایمیل: zakirtasal@gmail.com

واټس اپ شمېرې: ۰۷۷۲۷۷۱۷۴


[1]- قوله (استويا وزنا) أما إذا لم يستويا فيه فالبيع فاسد لربا الفضل لا لعدم الفائدة. [حاشية رد المحتار على الدر المختار شرح تنوير الأبصار ۴/ ۵۰۴]

- ومنها الفائدة فبيع ما لا فائدة فيه وشراؤه فاسد كبيع درهم بدرهم استويا وزنا وصفة كذا في البحر الرائق. [الفتاوى العالمكيرية = الفتاوى الهندية 3/ 3]